# پند لرونکي کيسي

Ketabton.com

کال ۱۳۹۹

راټولوونکی : روح الله روحانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پند لرونکي کيسې



کال ۱۳۹۹

راټولونکي روح الله روحانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

له لوي توانا خدای ج څخه ډیر  شکر گزار یم چې ماته بیا هم دکتاب لیکلو تواناي راوبښله .
لکه څنگه چې پدی کتاب کې مې مختلف پند لرونکې کیسې لیکلې او راټول کړې دي نو که چیرته کوم مشکل وو نو هتما له مونږ سره شریکه کړئ تر څو بیا راتلونکې کې بیا تکرار نه شې . په دغه کتاب په لیکلو او د پند لرونکو کیسو په ټولولو کې د ټولو مرستې او همغږي څخه نړی نړئ مننه کوم او په حاصتا د پلار جان څخه یې چی زه کتاب لیکلوته تشویق کړم او له گران ماما جان (مولانا صاحب فیض محمد محمد ) نه هم یوه نړۍ مننه کوم چې په کیسو او ناولونو کې یې مرسته وکړه او له محمد ایوب ارمانی څخه هم مننه چې د کیسو په ترتیب او ډیزاین کې لارښونه وکړه او یو څو کیسې راته ډالی کړي

راټولونکې او لیکونکې  روح الله روحانی

د اړیکې شماره    +93775148889

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دالی

تولو لوستونکو ته چې کتابونه
لولي او کتاب سره مینه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عاشقۍ جالبه کیسه!

یو هلک په یوې دینداري نجلۍ مین و، څه موده پس نجلۍ بل چا سره واده وکړ، هلک د غمونو په سمندر کې ډوب شو، د ژوند شیبې ډیرې ترخې شوې ، بالاخره په ډیر همت نجلۍ ته یې یو لیک واستوو، ګرانې! ډیره هڅه مې وکړه ، چې واده درسره وکړم ، خو د قسمت کرښو ناکام کړم، په خپل ژوند پورې تنګ شوی یم نور نه غواړم، چې له تا پرته ژوندی پاتې شم، خو یوه هیله مې ومنه ، صرف یو ځل د ملاقات چانس راکړه، تېنګار نه کوم، هره پریکړه مو ماته د منلو وړده ،

نجلۍ ډیره دینداره او هوښیاره وه، هغې ورته وویل: عمر فاروق رضی الله عنه پسې پوره ځلویښت ورځې په جماعت سره لمونځ وکړه، بیا، چې هرځای ستاسو خوښ وي هلته به لیده کاته وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک خبره تايدکړه او نجلۍ دکور مخه خوشې کړه، پوره څلويښت ورځې وروسته نجلۍ هلک ته ليک واستوو: که مو زما وړانديز ترسره کړی وي؟ بيا د ملاقات لپاره چمتو يم، څلويښتو ورځو پابندو لمونځونو په هلک سخته اغيزه کړيوه.
نجلۍ ته يې په خوب کې وليکل: زما په زړه کې ستا مينه وه، خو اوس مې په زړه کې د الله حقيقي محبت ځای نيولی، زما او ستا لارې جلا دي، نجلۍ دا پيښه ټکي په ټکي خپل خاوندته واوروله، خاوند يې عمرفاروق رض عنه ته کټ مټ ورسوله، هغه رضي الله عنه وويل: الله ج رښتيا ويلي: له شک پرته لمونځ انسانان د بدکاريو منع کوي.

نو اې وروره له دې وروسته لمونځ قايم کړه، که خدای ته منظوره وه، تا به هم د الله(ج) له مينې برخمن شې.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مینې درناوی «له پنده ډکه کیسه»

یوه هلک له یوې نجلۍ سره ډېره زیاته مینه درلوده، په مرکه ورغی، نجلۍ هلک ته وویل: کوم معاش چې ته په یوه میاشت کې اخلې، نو زما د یوې ورځې د لګښت په اندازه دی، نو څنګه تمه لرې، چې درسره واده وکړم؟ هلک وویل: زه له تا سره ډېره زیاته مینه لرم او غواړم، چې درسره واده وکړم.

نجلۍ وویل : ځه لاړ شه، یوه بله پیدا کړه.

له لسو کلنو تېرېدو وروسته، په ناڅاپي ډول هلک او نجلۍ سره مخامخ شول، نجلۍ هلک ته وویل: اوس مې له یوه ځوان سره واده کړی دی، چې معاش یې ستا د معاش لس برابره دی، د دې خبرې په اورېدو د هلک له سترګو څخه اوښکو د ګرېوان په لور لارې جوړې کړې، په همدې حال کې د نجلۍ خاوند راغی او هلک ته یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



رییسه ! تاسو دلته یاست، تاسو به خپلې مېرمنې ته ور وپېژنم . خاوند خپلې مېرمنې ته وویل : دا زموږ رییس دی، ډېر وخت مخکې په یوې نجلۍ باندې مین و او هماغې مینې ته د درناوي په خاطر یې تر اوسه پورې واده نه دی کړی.

که چېرې نجلۍ ورسره واده کړی وای، نو ډېره به نېکمرغه وه . د نجلۍ خوله بنده شوه او هېڅ یې هم ونه ویل، نو خبر اوسئ، چې هرڅه بدلون کوي، پخواني حالات په خپل حال نه پاتې کېږي، یوه ورځ کاریگر و، اوس د شرکت رییس دی.

هېڅکله په ځان کې کبر او غرور مه پیدا کوئ او نورو ته په کمه سترګه مه ګورئ، ځکه چې هرڅه تېرېدونکي دي.

د زمانې څرخ تاوېږي او لوړې او ژورې را څرګندوي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مینې په نوم هوس

یوه انجلۍ چې حسنات نومیده
کله چې دا کوچنۍ وه پلار یې وفات کیږي
دوه ورونه یې درلوده
دا انجلۍ مور په ډېره ناز لویه کړي یې او ډېره
ښایسته هم یې
د حسنات د کور په څنګ کې یو پارک یې چې دا هر
مازدیګر هغه پارک ته ځي
یو ورځ په همدې پارک کې د شمس په نوم هلک چې
ډېر پیسه دار یې او خپل په پیسو ډېر مغروره او بې
لاره یې دا ورسره مخ کیږي
خو دا همداسې بې تفاوته یې څنګ نه تیریږي
د شمس نظر په دې لګي او تر نظر لاندې نیسې
شمس سبا ته بیا دې پارک ته راځې
ګورې چې حسنات بیا راغلې همداسې تر څو ورځو
شمس مکرر راځې پارک ته او حسنات ته د لرې
ګورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حسنات هم ده ته متوجې کیږي
آخر یو ورځ شمس زړه کوي او خوا ته د حسنات
راځې او همداسې سلام کوي بیا پوښتنه کوي چې
همدې شاو خوا کې اوسیږی ؟
حسنات هم ورته جواب ورکوي
خو بلاخره دوی یو بل سره معرفي کیږي او هره ورځ
سره پارک کې ګورې
د حسنات په زړه کې مینه ورته پیدا کیږي خو د
شمس په زړه کې هوس ددوې یو بل سره کتل دوام
پیدا کوي
حسنات ته یو بل هلک مرکه (طلبګاري ) کوي چې
هغه هلک تحصیل یافته او د ډېر ښه کورنی نه یې
د حسنات مور راضي کیږي او خپل خوښه څرګندوي
یوازې خپل د لور نه د هو په تمعه یې
حسنات چې خبریږي د مرکې نه مور ته وایې زه یې
نه کوم مور یې خفه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسنات په سبا شمس ته وایې چې داسې مرکه راغلې راته
خو زه پرته له تا بل چا سره واده نه کوم ځکه زه ستا سره مینه لرم
شمس ورته وایې چې نا د مور زړه دي مه خفه کوه او د واده لپاره هو ووایه حسنات حېرانه کیږي او په ژړا کیږي ورته چې ولي ته زما سره مینه نه لرې ؟
شمس ورته وایې لیونی ما کله ستا له مینې انکار کړی او کله ما ووېل چې زه تا پرېږدم ؟
خو ته کوژدې لپاره هو ووایه  خو وعده کوم درسره چې زه تا هغه هلک ته نه پرېږدم
خو حسنات هم خپل د مور د زړه لپاره هو وایې
بلاخره کوژده کوي خو هلک سره د کوژدې وروسته هیڅ خبري نه کوي بلکې شمس سره خبري کوي
نامزاد یې ورته وایې ته ولې ما سره خبري نه کوی ؟
حسنات ورته وایې زما نه خوښیږي چې واده نه مخکې داسې خبري کوم  نامزاد یې وایې چې حتمن اوس به شرمیږي ځکه خبري نه کوي خو دومره جدي یې نه نیسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بلاخره واده یې نیږدې کیږي حسنات شمس ته
وایې چې واده مې نیږدې دی زه نه شم کولای هغه
سره واده وکړم
شمس ورته وایې چې ته د واده وکړه بیا نور ماته
پریږده خو حسنات هم واده کوي
حسنات چې دده په مینه کې ډېره ړنده شوي یې څه
چې شمس وایې هغه مني
د واده په شپه ورته وایې چې زه د هوټل شاوخوا کې
یم تشویش مه کوه خو هو ته ځان خاوند ته تسلیم نه
کړي ځکه ته زما مینه یې
حسنات هم د واده په شپه ځان په مریضې اچوي او
خاوند ته وایې چې ماته نیږدې نشی
کله چې خاوند غواړي دې ته نیږدې شي دا ځینې
لرې کیږي په تمثیل سره
خاوند هم وایې سمه ده مه ډاریږه زه تا درک کولای
شم ته نوي کور ته راغلې یې ځکه درته سخته ده خېر
هر څه به د وخت په تېریدو سم شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې کله هم خاوند غواړي دې ته نیږدې شي دا
داسې تمثیل کوي چې خاوند یې ځینې لري کیږي
وایې مریضې لرم یا جادو را باندي شوی خوابښې او
خاوند یې دا بیایې ډاکټرانو ته ملایانو ته خو دا بیا
هم هغسې یې
آخر یو ورځ شمس ورته زنګ کې وایې کله چې دي
خاوند وظیفې ته ځې ځان تیار که زه درپسې راځم
او بیایم دي
حسنات چې هم ددې شپې په تمعه یې ځان تیاروي
او د خاوند د وتلو سره سم سهیل راځې او حسنات
ځان سره بیایې
خاوند چې راځې ګورې ښځه یې نسته کور کې
مور کور ته یې زنګ وهي هلته هم نه یې هر ځای
پلټې حسنات نه پیدا کوي
دې کې درې ورځې تیریږي په څلورمه ورځ د تورو
شیشو موټر دریږي او حسنات د موټر نه لاندې خطا
کوي
شمس چې کله دا ځان سره بوولي یې خپل ملګري هم
خبروي او په ګډه په دې تجاوز/ تېری کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د څو ورځو وروسته چې په ډېر بد حالت کې یې
دا د مور ور مخکې د موټر نه لاندې خطا کوي
خاوند او کورنی یې خبرېږي
دا شفاخانې ته بیایې هلته ډاکټران ورته وایې په
دې تجاوز شوی او کله چې هوش کې راځې نو هر
څه وایې خاوند یې هم هغه شفاخانه کې طلاق
ورکوي ځکه وایې که مړه دي کړم په یو ځل به مړه
شي
خو زه تا نه وژنم طلاق درکوم تر څو هره شېبه مړه
شی
څه وخت وروسته یې خاوند بله ښځه کوي
او هغې سره ښه ژوند شروع کوي او امریکا ته ورسره
ځې
حسنات چې خپل ژوند خراب کړی یې کورنی هم
ځینې لاس اخلي او یوازې د ټول عمر لپاره پاته
کیږي چې هم د الله (ج) ته شرمنده کیږي هم خپل
کورنی او خاوند ته
او هره شېبه خپل د مرګ دعا کوي ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ : نو په هري مینې باور مه کوی ځکه چې ډېر د مینې تر عنوان لاندي ستاسو ژوند سره لوبه کوي او ژوند مو خرابوي
که څوک درسره مینه ولري نو نکاح کوي که نکاح نشي کولاې نو هیڅ کله درسره مینه نه لري بلکې وخت تېروي یا هم درنه ګټه اخلې ژوند سره دي لوبه کوي
د مینې او هوس تر منځ توپیر دا دی چې مینه درسره ولري ضرور نکاح کوي که نکاح نشي پای



(c) ketabton.com: The Digital Library



## لنډه کیسه

شپې ناوخته وو مسج راغی سلام سنګه یی ومی
ویل خه یم شکر تاسو سوک وی سلګی یم د خوست
ولایت ما ویل خه ډیر ښه خبری مو اوږدی شوی
خو جلی رااندی ډیره خوږه ولږیده شپی تر ډیره
ناوخته مو خبری وکړی په دی کی شپی ورځی
تیری شوی د سلګی ما سره مینه پیدا شوه.
زما هغه سره یو کال مو د خبرو وشو یو بل ته ډیر
ګران شو یو شپه سلګی زنګ ووهو میسج ته راشه
ویل می خه چی راغلم ویل نن درته یو حقیقت وایم
ما ویل سنګه؟
ویل دوه کاله مخکی می زه پلار په لس لکه کلداری
د یو ماشوم په نوم کړی یم او د هلک پلار غواړی زما
واده وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زه حیران یم سه وکم هلک نوی دی ۱۱ کالو شو
او سلګۍ به د ۲۰ کالو وه خو ډیر مو سره وژړل سو
ورځی ورسته د سلګۍ هماغه
هلک سره واده وو دوه ورځی ورسته یی له ما خدای
پامانی واخیسته او لاړه ورسته د واده یو میاشت
به تیره شوی وه د یو شماری نه زنګ راغلی ویل
سلګۍ
یمه وس د خسر کور کی یم نشم کولی درسره
وغږیږم او د واده عکسونه می درولیږل وه یی ګوره
او
تر مرګه یی له ځان سره وساته موبایل بند شو څلور
کاله وشو همداسی لاړه بیا می پیدا نکړه نن شپه
باران وو سګرت په لاس کلاری د سرک په غاړه
روان وم چی رایاده شوه هر چیرته چی وسی الله دی
خوشحاله لره عمر یی ډیر شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوه خندوونکې

انجلۍ د باران په لیدو یو ځل په ژړا کیږي
ددې لپاره چې یو هلک ورته ویلي وو: چې دومره مینه
درسره کوم لکه د باران څاڅکي .......!!!
یو هلک د ښار په یو هوټل کې په ساعتونو سګریټ څکوي
او د هغه ځای نه نه پورته کیږي
یوازې ددې لپاره چې یوې انجلۍ په آخر ځل د هغه سره په هغه ځای کې ملاقات / لیدنه کړی وه ......!!!
یوه ناوې د واده په شپه د بې نهایت مینه کوونکې خاوند
په سینه سر ایږدي او سترګې نم جني کیږي د هغه هلک لپاره
چې ددې سره هیڅ مینه نه کول .......!!!!
یو مشر د دفتر یوه هوښیاره , لایقه ذهینه انجلۍ
یوازې ددې لپاره د دندې نه لرې کوي او د دندې نه ورته منصرف کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ددې انجلۍ څهره هغې انجلۍ ته ورته وه
کومې چې ورسره بیوفایې کړې وه .......!!!!
یوه ښځه خپل د کوچني زوی سره مکتب ته د تلو
په وخت کې ناڅاپه
سترګې یې په هغې ماشومې لګیږي چې یو وخت
د هغه ماشومې پلار ورته ویلې وو که زمونږ لور یو
وخت وشوه نو سترګې به یې تاته یې او پوزه به
یې ماته یې نو دا همداسې هلته فکر کې ځې او
سترګو کې اوښکې راځې ..........!!!!!
یو ذهین پوه هلک یوازې ددې لپاره ملک پریږدي او
مسافر کیږي
چې هغه هلک خپل مینه حاصله نه کړه
او دلته په اوسیدو او هر ځای ته په لیدو هغه
انجلۍ ور یادیږي چې یو بلا خاطرې یې ورته د هر
څه سره پریښودلې .....!!!!
یوه انجلۍ یوازې ددې لپاره توره جوړه اغوندي
چې یو وخت ورته هغه چا ویلې وو چې دې ورسره
مینه درلود چې زما تور رنګ خوښیږي که څه هم
ورسره هغه څوک نشته ......!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو هلک په مکتب کې د حاضري اخیستو په وخت
کې
سکوت کیږي او د زړه درازه یې تیزیږي سترګې نم
جني کیږي یوازې ددې لپاره چې کومې انجلۍ سره
یې چې مینه کول
دده یوه شاګرده د هغې انجلۍ هم نومه ده ......!!!!!
یوه انجلۍ د یو چا د یادولو وروسته هر ځل یوازې
یوه سندره اورې
یوازې ددې لپاره چې هغه هلک چې ددې سره مینه
نه کول خو دا یې م ءینه کړه
هغه سندره د هغه د خوښې وه او دا په هغه سندره
کې د هغه یادونه لټوي ........!!!
یو هلک مدام ځې یو ځای دریږي او ټوله ورځ هلته
تېروي ددې لپاره کومې انجلۍ چې ده سره مینه
کول هغې به تل د خپل د اطاق له کړکۍ نه هغه ته
کتل کومه چې اوس هلته نشته........!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دلته او د نړۍ په هر ځای کې داسې کسان شته چې مینه یې کړی او هر څه او هر ځای پوري یوه خاطره نه یوه خاطره لري
او زړونه یې مات شوي .

لیکوال محمد ایوب ارمانی

ډیره مننه کوم ترې چې کیسه یې مونږ ته ډالۍ کړه د له برياوو په هیله



(c) ketabton.com: The Digital Library



## بې اختیاره چغه

د اوړي ورځ وه. داسې ښکارېده لکه چې لمریوه نېزه له بلې ورخې زیات راښکته شوی وي. د زمکې مخ د گرمۍ له قهره چاودلی و. مرغانو د گرمۍ له زوره خپلې وزرې ځوړندې نیولې او ژبې یې راوېستلې وې. ونو او ټولو شنپلیو له ډېرې تندې خپل مخونه زېړ کړي وو. ټکنده غرمه وه چې د سړو اوبو د څښلو لپاره د مالت چینې ته روان شوم. چینې رڼې، یخې او خوږې اوبه درلودې. د مالت ټولې پېغلې به منگي په سر دلته راتلې او له دې ځایه به یې خپلو کورونو ته اوبه وړې. کله چې چینې ته ورسېدم، د مالت د ماشومانو، پېغلو او پېغلوټو گڼه گونه وه. په ډېره بیړه د چینې په غاړه کېناستم. لپه مې له اوبو ډکه کړه او کله چې مې خپلې تږې او چاودلې شونډې په اوبو کېښودې، نو د یوې پېغلې آواز مې تر غوږو شو چې وې ویل: «کټوری در واخله، په دې اوبه وڅښه لکه چې ډېر تږی شوی یې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې سترګې ورواړولې، د ځوارلسم سپوږمۍ وه. د سپرلي تر ټولو ګلانو ښایسته. سپین ګرد مخ، تورې غټې خمارې سترګې، هسکه غاړه او ښکلی اندام. موسکۍ شوه او کټوری یې را اوږد کړو، اوبه مې له لېپې توې شوې، سپک پاڅېدم، تر اړخه یې ودرېدم او په لړځېدلو شونډو مې وویل: هو! ډېر تږی شوی یم . کټوری مې ترې واخیست، اوبه مې وڅښلې او د مننې په ویلو مې بیرته ورکړ.

له چینې راوګرځېدم او د کور په لور مې مخه کړه. څو قدمه لا نه وم تللې چې څه بل ډول چل راباندې وشو. اندامونه مې سست او کاواکه شول. وجود مې لړزې ونیو، تنده مې دوه چنده شوه او د دې تر څنګ مې په غوږونو کې انګازې خپرې شوې.

« کټوری درواخله، په دې اوبه وڅښه لکه چې ډېر تږی شوی یې؟».

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټوله لاره مې هغه مخ ته نېغه ولاړه وه. په ذهن کې مې د هغې تصوير جوړاوه او په غوږونو کې مې د هغې خبره گرځېده راګرځېده. هو! د پېغلتوب وږمو يې هر څه راسپړلي وو.

ټوله شپه تر ګهيځه خوب رانه غی. سترګې مې د هغې د خمارې سترګو بيا ليدو ته لېوالې وې.

حواسو مې د يو نا آشنا شي سره جګړه کوله او زړه مې د سرپټي ديګ په شان خوټېده. ليونتوب ته نږدې شوی وم او ټوله شپه تر هغو د هغې د ښکلا او ښه سلوک د درياب څپو په مخه کړی وم چې چرګ بانګ وکړو، سپېدې وچاودې او له کټه را پورته شوم.

ننۍ ورځې کټ مټ د تېرې ورځې په شان تودوخه درلوده، خو زما د زړه تودوخه او تلوسه له تېرې ورځې څو چنده شوې وه. حواسو مې د هغې بيا ليدو ته غولۍ وهلې. دنيا راباندې تنور ګرځېدلې وه.

خو يو وخت داسې هم راغی چې نور مې تسکين نه کېده او د هغې د ليدو تنده مې په هېڅ شي نه ماتېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې په یو وار کتو راباندې داسې څه چل شوی و چې زړه مې غوښتل له هغې سره بیا وګورم او د هغې خبرې واورم.
همدا وجه وه چې د هغې د لیدو لپاره مې د تلو اراده وکړه او د پروني وخت څخه لږ څه مخکې د چینې په لور روان شوم. په تټوله لاره مې د هغې خبره بې واره غوږونو ته راتله:«کټوری درواخله، په دې اوبه وڅښه لکه چې ډېر تږی شوی یې؟»چینې ته ورسېدم. کاته مې چې هغه تر ما ړومبی له خپل کوچنې ورور سره یو ځای رارسېدلې وه او داسې برېښېده لکه چې ماته سترګې په لاره وه. حلق مې وچ وچ شو. د زړه درزا مې زیاته شوه او داسې مې احساسوله چې هغه زما د زړه درزا اوري. ورنږدې شوم. د هغې شونډې د سپرلي د غاټول ګل غونډې رپېدې. آننګي یې سره شول او راپاڅېده. د هغې په بڼه کې د مینې څپې له ورایه ښکارېدې. زړه مې لکه توتي راته په چغېدو شو چې ورته ووایه(( زما ژوند له تاسره غوټه کیدل غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په ژوند کې له تا نشم جلا کېدی. که مرگ وي او که خوشالي بايد سره يو ځای واوسو)). زړه مې دغو خپو په مخه کړې و چې هغې زما د سوچونو لړۍ وشلوله، موسکۍ شوه، په خپلو گلابي شونډو يې ژبه راښکله او ويې ويل:

ـ ستړې مه شې، راغلې.

ځواب مې ورکړ.

ـ هو! ژوندئ اوسې.

هغې سترگې ښکته واچولې او د شونډو په چيچلو شوه. لږ څه زړور شوم او ترې ومې پوښتل:

ـ ستا نوم؟

خندنۍ شوه، غاړه يې تازه کړه او ځواب يې راکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښکلا.

بيا مې ترې وپوښتل:

ـ د کوم کلي يې؟

هغې په خير خير راته وکتل لکه چې زما په خبره کې څه لټوي او بيا يې مخ خپل کلي ته واړاوه او د لاس په اشاره يې په پسته ژبه راته وويل:

ـ د هغه پورې کلي، هغه برجوره کلا چې وينې، هغه زمونږ ده. هغې په بيره مخ را واړاوه او له ما يې وپوښتل:

ستا نوم او کلی؟ -

ځواب مې ورکړ:

ـ نوم مې روح الله دی او د بر کلي يمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې وویل:

ـ څه کار کوې؟

ځواب مې ورکړ:

ـ د لسم ټولګي زده کوونکی یم.

هغې سوړ اسویلی له خولې وویسته، بیا یې خپلې لاړې تېرې کړې او ویې ویل:

ـ زه مې پلار له شپږم ټولګي څخه وویستم او پرې یې نه ښودم چې نوره زده کړه وکړم.

کله چې هغې دا خبره خلاصوله نو له لرې د پېغلو یوه ډله د چینې په لور رابنکاره شوه. هغې خپلې سترګې له ما سره وجنګولې او په بیړه یې راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سبا ته به حتمي راځې بيابه د زړه خواله کوو.

مخ يې واړاوه او د منګي په ډکولو شوه او زه د کور په لور روان شوم.

د نا اميديو په تيارو کې مې د اميد څه ځرک شانې لګېدلی و. خوشاله وم. د زړه تسل مې شوې و. تنده مې لږ څه ماته شوې وه. هغه راته د مينې لاروی بریښېده. خو هغه راته له يوې شتمنې کورنۍ څخه مالومېده او دې مسلئ لږ څه په فکر کې کولم. په هر صورت زما مينه دې سرحد ته رسېدلې وه چې هېڅ فاصله او ديوال يې نه مانه او بيا دې ليدو دومره نږدې کړې وم چې خپل سر مې د هغې په سپين مړوند احساس کړو او په زړه کې مې د مينې دوی بله شوه. تر هغو مې په خيال کې له سپرغۍ سره د مينې زنځيرونه غزول څو تر کوره راورسېدم او کله چې تيارې د ورځی رڼايې په مخه کړه او خپل تور څادر يې وغوړاوه، نو بستر ته پورته شوم او ستونی ستاغ وغزېدم. هغه مې تر سترګو کېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه عجیبه شان خوښي مې حس کوله او په همدې هکله مې له ځانه سره سوچونه کول او بیا هېڅ په ځان پوه نه شوم چې څرنګه له ښکلا سره یو ځای د مینې د ډک دریاب توپاني څپو لاهو کړې وم:

ښکلا مې د ناویتوب په ښکلو او سپینو جامو کې لیده، په پالنګ ناسته وه، سترګې یې له شرمه ښکته نیولې او زما د راتلو انتظار باسي.

ما هم د واده نوې جامې اغوستې او پالنګ ته د پورته کېدو نیت لرم. ور روان شوم. شونډې مې وچې وچې کېدې او ټول اندامونه مې آوار لړزېدل. پالنګ ته پورته شوم، سالو مې پورته کړ، بې اختیاره یې غیږې ته ځان راوغورځاوه، ټینګه مې ونیوه، د جګړوهلې مرغۍ په شان لړزیده او کله چې مې خپلې تږې سپېرې شونډې د هغې په ګلابي اونازکو شونډو ایښودې، د ګاونډې کوټې وره ترق وکړو. د خیالونو دنیاګۍ مې دړې وړې شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پالنګ درک درلود، نه ښکلا د ناویتوب په جامو کې وه او نه ما نوې جامې اغوستې وې.

د بدن شخې مې ونیوه، ډډې مې له بستره راپورته کړې، د لمر زرینو پلوشو د هسکو غرونو څوکې ښکلولې او سترګو مې بیا هم د ښکلا د غټو زړه راښکونکو سترګو د شړق دیدن ته لارې څارلې، تر هغو چې ټاکلی وخت راورسېد او چینې ته روان شوم.

ټوله لار په دې فکر کې وم چې څرنګه او په کومه ژبه هغې ته د زړه غوټې اوسپړم. د خیالونو په دې کشمکش کې ډوب وم چې تر چینې راورسېدم او سترګې مې په ښکلا ونښتې.

دا ځل چې هغې ته ورنږدې شوم نو د هغې اننګې سره او سپین شول او داسې ښکارېده لکه د سپرلي د ګلاب ګل چې له سهارني شبنم سره یوځای خوله په خندا پرانستې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حیا نه ډکې سترګې یې زما په سترګو ښخې کړې او وې ویل:

- ښه شو چې راغلې که نه نو......

زه پوه شوم چې هغې څه غوښتل ووایې، خو له شرمه یې خبره نیمګړې پاتې شوه. د ښکلا دې نیمګړې خبرې جرآت راکړو او ومې ویل:

ښکلا رښتیا وایم ستا مینې لیونی کړې یم، ستا په جدایې کې څمکه ځای نه راکوي، خوب مې له سترګو تښتېدلې او ذهن مې ستا د زلفو په ټالونو زانګي. هغې د سترګو لاندې کتل او په ډېر غور یې زما خبرو ته غوږ نیولې و. یوه شېبه غلې وه، بیا موسکی شوه، خپلې زلفې یې پورته وغورځولې او د سر په اشاره یې هغې باغچې ته چې چینې ته څېرمه پرته وه او اړخ ته یې زیارت و، د تلو بلنه راکړه. هغه روانه شوه او کله چې باغچې ته پورته کېده، نو څلورو خواوو ته یې وکتل او بیا ننوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم ور روان شوم او کله چې د هغې په څېر پوره داډمن شوم، نو ور ننوتم او د لومړي ځل لپاره مې خپلې زیږې شونډې د هغې په پستو شونډو ور ښخې کړې او تر هغو مې زبېښلې څو چې تنده مې ماته شوه.

د زړه خواله مو وکړه او په زړه خواله کې د هغې هوډ راته تر خپله قوي ښکاره شو. د ځنډ په نظر کې نیولو وروسته یو پر بل پسې له باغچې ووتو. هغه د چینې او زه د کور په لور روان شوم.

په دې توګه شپې او ورځې تېرېدلې او د ژوند کاروان په ترپکو روان و. د هغې له خوږو خبرو او مینې سره عادت شوی وم او لیده کاته مو په باغچه کې د پخوا په شان کېده او بیا دې مینې دومره ژوروالی پیدا کړی و لکه د یو تن هډوکي او پوټکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو له ورځو زښت ستړی مالومېدم. په دالانه کې
کټ کې پرېوتم. له لږې شېبې وروسته د درانه
خوب مستو څپو له خانه سره يو ځای کړم. ګورم
چې د چينې په غاړه د ښکلا راتلو ته انتظار باسم
او سترګې مې د هغې د راتلو لارې څاري او کله
ناکله به په خيال کې د هغې د ښايست په سپېرل
شوو ګلونو ښخې شوې او د هغې د وصال په ميو به
مست شوم. خو په هر صورت هغه را نه غله او زړه
مې په ګوګل کې په سوځېدو شو. کور ته را ستون
شوم. ټوله شپه مې خپلې ګناهګارې سترګې پټې
نکړې او تر هغو د اندېښنو سيلاب له ځانه سره په
منډو کړې وم چې د سباوون روښنايي وځلېده، لمر
خپلې وړانګې د زمکې په لور وغځولې او لکه ليونی
او سودايي د سپرغۍ دوئ د کور په خوا روان شوم. د
لارې په اوږدو کې له يوه ملګري سره چې امان الله
نومېده او په يوه ټولګي کې مو زده کړه کوله مخامخ
شوم. هک پک ور سره ودرېدم. له جوړ په خير
وروسته يې له خندا سره يو ځای له ما وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیریت خو دی رنګ دې ژیړ مالومیږي، عاشق شوې خو به نه یې؟ له مصنوعي خندا سره یو ځای مې ځواب ورکړ:

ستا سترګې زیږې شوي.

یوه شېبه ولاړ وو او بیا وروسته د زړه خوالې لپاره په هغه لور چې ما یې تکل کړې و، روان شوو. یو له بل سره مو د ځوانۍ د ښکلو او تازه شېبو په هکله خبرې کولې چې له لرې مې سترګې د ښکلا دوئ د برجورې کلا په وره ښخې شوې. وره ته مې دوه سترګې څلور شوې وې، خو امان الله ته داسې ښکارېده لکه چې د هغه خبرو ته غوږ یمه.

د سپرغی دوئ د کلا له مخې تیر شو، خو د هغې پته ونه لګېده. کله نا کله به مې خپلې سترګې شاته واړولې، ګوندې که دیدن مو وشي، خو هغه لکه د انځر ګل نه مالومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د امان الله دوې چم ته راورسیدو، هغه راڅخه جلا او زه د خیالونو په نړۍ کې چې هره شېبه مې سترګې د ښکلا دوئ د برجورې کلا په وره لګېدې او هغه مې لیده چې زما په خوا ګورې تر خپله کوره را ورسیدم.

زړه مې ډېر ناکراره و، له هېڅا سره ناستې خوند نه راکاوه. د کوچنیانو شور او زوږ او آن خنداوې خو را باندې بدې لګېدې. او له هر څه نه زیات مې دې ته هڅه کوله چې د کورنۍ له ټولو غړو ګوښه واوسم . غمونو او لټو مې ستونی لا پسې مروړه او خپل ژوند او راتلونکی راته نیمه خوا شان ښکارېده. د زړه توتې مې مړاوې و او لنډه داچې له هر څه بېزاره وم. روح او تن مې یو له بله سره په دې آخ او ډب اخته و چې د پخوا په څېر د چینې په لور روان شوم. له لرې مې سترګې په ښکلا ونښتې. زښت خوشاله شوم، آن تر دې چې زړه راته ویل، ژر والوزه او تر اړخه یې ودرېږه، خو دا کار نا شونی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترګو په رپ کې ور ورسېدم. هغه چرتې مالومېده او څېره یې زېړه زبېښلې وه چې هډو د وینې څاڅکې په کې نه مالومېده. شونډو یې پترې نیولې وو او پر مخ یې کمزورې خوله راماته وه او.....

باغچې ته پورته شوو. په سترګو یې رڼې اوښکې د مرغلرو پشان وځلېدې. لاسونه یې غاړې ته راواچول چې په دې کې نابېره یو متېور سړی چې لنډه ونه او شخ برېتونه یې درلودل او له ډېره قهره او غضبه یې په اښکو کې څګونه له ورایه مالومېدل، لور په لاس باغچې ته را ننوت. ښکلا بې اختیاره چغه کړه. په لېچو کې مې تېنګه ونغښته. له خوبه رابېدار شوم. ګورم چې بالښت مې په غېږ کې تېنګ نیولی او په دې شېبه کې ناڅاپه مې ذهن ته د ښکلا د لومړۍ ورځې خبره راغله چې ویل یې:

«کتورې درواخله، په دې اوبه وڅښه لکه چې ډېر تږی شوی یې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیونتوب

له لیونی نه وپوښتل شوه : چاسره مینه لری ؟؟؟
لیونی ویل خپلی معشوقی سره ....!
پوښتنه یی وکړه معشوقه د څوک ده ؟؟؟
ویل یی معشوقه نلرم....!
ویی خندل او پوښتنه یی وکړه : د معشوقی د پاره د څه کار کولی شی؟؟؟
ویل یی د هوښیارانو په شان نه کیږم ، نامردی نه کوم ، خیانت نه کوم، لری نه ورنه ځم. وعده نه ماتوم، دروغ نه وایم ، او همیشه به مینه ورسره لرم.
خفه کوم یی نه ، غمخوار به یی پاتی کیږم ، بی وفایی نه ورسره کوم، تنها یی نه پریږدم......!
پوښتنه یی ورنه وکړه : که چیری تا تنها پریږدی ، که چیری تاسره مینه ونه لری، که چیری تاسره نامردی وکړی، او که چیری تا یوازی پریږدی نو بیا ؟؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سترګو یې اوښکې راغلې او ویې ویل :
که داسې نه وای نو زه به ولې لیونی کېدم.....!!

او د یار دیدن تخت ته خاته دی
چې جدا کېږي سرې خير ته کېنوينه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يوې يتيمې لور کيسه.

يتيمې انجلۍ له خپلې بودۍ مور سره ژوند کاوه، وروڼه يې نه درلودل له پېغلتوب وروسته يې د کاکا زوی ورباندې جرګه وکړه. د انجلۍ مور هم پدې خاطر خپل رضايت وښوده او خپله لور يې د لېوره زوی ته ورکړه چې لور به مې راسره نژدې وي کله کله خو به مې خدمت ته رامنده کوي. کله يې چې لور واده شوه نو د خواښې، خسر، او ايندرورګانو لخوا ورباندې ظلمونه شروع شول هر وخت به يې ورته ناحقې سپکې سپورې کولې. خو انجلۍ به هغوی ته هيڅ نه ويل خپلې مور کره به راغله او د مور غېږې ته به ورولوېده په چغو چغو به يې ژړل او د ورباندې شوو ظلمونو کيسه او شکايت به يې ورته کوه مګر يو وخت داسې راغی چې د يتميې انجلۍ بودۍ مور د مرګ پر بستر پرېوته. د ځنکدن وخت يې و انجلۍ ورته وويلې چې مورجانې که ته مړه شې بيا به زه خپل شکايت چاته کوم؟ خپل زړه به چاته سپکوم؟ د خسرګنۍ د خلکو نادودې به مې چاته بيانوم؟ مور يې ورته په ځواب کې وويل ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر کله دې زړه تنګېده هغوی دربانډې ظلم کوه نو زما کور ته راځه اودس کوه او دوه رکعته لمونځ کوه بیا خدای ج ته د دوی نه شکایت کوه .انجلۍ هم وعده وکړه او د مور له مرګ نه به یې وروسته همداسې کول . یو وخت وربانډې یې خسر ګنۍ شکې شوه خپل زوی ته یې وویل چې ستا ښځې خپل کور کې کوم یار نېولی ځنګه له دې خوا خفه لاړه شي او له هغې خوا خوشحاله راځي. زوی یې لاړ او د خپلې خواښې کور کې پټ شو یو ډېر ځنډ وروسته یې ښځه راغله دروازه یې قلف کړه اودس یې وکړ او لمانځه بانډې ودرېده خو کله یې چې لمونځ خلاص کړ. خدای ج ته یې لاسونه لپه کړل او په ژړا یې شروع کړه. چې خدایه ته مې خواښې او خسر ته لارښوونه وکړې چې نور ماسره جنګ ونکړي! ته مې ایندرور ګانو ته هدایت وکړې! خدایه خاوند مې ډېر ښه انسان دی مګر هغه غریب د خپلې کورنۍ تر تاثیر لاندې راغلی. خدایه! که ته رانه په همدې حالت خوښ یې خو زه هم خوشحاله یم او که نه یې خوښ نو له ما راضي شه خدایه زه بې له تا بل څوک نلرم زما مرستندوی شه. خاوند یې چې دا حالت ټول له کړکۍ څاره نو ژر یې دروازه ټک ټک کړه ښځې یې دروازه ورخلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندې یې غېږ کې ونېوله او پر تندي یې ښکل کړه دواړه راغلل خپل کور ته خاوند یې د کورنۍ غړي ټول راټول او د سترګو لیدلی حال یې ورته وویلې ټولې توبې وویستې او له انجلۍ یې بخښنه وغوښته او دا یې هم ورته وویل چې نور به څوک دومره هم درته نه وایي چې د سترګو د پاسه دې باڼه دي. بېګاه ته انجلۍ خوب ولیده او په خوب کې ورته وویل شول چې خپلې مور ته دې لس کاله شکایت وکړ هیڅ ونشو مګر ماته دې لس ورځې شکایت وکړ ستا ژوند مې بدل کړه



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شیخ سلیم کیسه

شیخ سلیم کیسه کوی چې زه خوان وم اوپه دې جومات کې مې دعلم ترلاسه کولو په نیت واړول، له جومات سره نښتې یوه خونه ده په هغه کې به اوسیدلم..دی وایې:
یو وخت زه سخت وږی شوم، دوه شپې مې هیڅ نه و خوړلې، دریمه شپه مې هم څه پیدانکړل او له چانه سوال کول مې هم زړه نه غوښتل، سهار دې حالت ته ورسیدلم چې دځان په هلاکیدلو ودارشوم،
له ځانه سره مې وویل چې اوس نوهغه وخت ده چې د ژوندي پاته کیدلو له پاره شرعا مردار خوراک هم رواده اوله چانه دومره شی غلا کول هم روا دي چې لوږه پرې لرې کړم، نوله ځانه سره مې غلا خوښه کړه.
دی وایې،
د دې سیمې کورونه ټول پخواني، ډیر ګڼ او له یوه بل سره نښتې جوړ شوې دي، که دیوه کور بام ته وخیږې دکورونو په بامونو باندې دمحلې پای ته هم تللی شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيـخ سليم وايي دخپلې خونې بام ته وختلم اوبيا ورسره کور ته ور واښتلم، په کور کې ښځه وه له هغې مې ځان پټ کړ ورسره بل کور ته ورغلم، هغه کور خالي و او ورښکته شوم، چې ښکته شوم دپخو خوړو بوي مې حس کړ، له ډيرې لوږې هغه بوی دمقناطيس په څير پخلنځي ته ورکش کړم، هلته يو گرم ديگ ايښی و، سرمې خلاص کړ په هغه کې توربانجان پاخه ايښې وو چې منځونه يې له غوښې ډک وو، يومې راوکيښ، هغه ډير گرم و خو زه له ډيرې لوږې په گرمو او سړو نه وم،

خوله مې پرې ولگوله چې يو دوه ځله مې په خوله کې اړاوه په دې وخت کې مې سر ته دين اوعقل راغلل....

له ځانه سره مې وويل:

د ديني علم طالب يې، په جومات کې اوسې، پردي کورته پټ راغلی يې او دغلا خواړه خورې؟

گوله مې بيرته وغورځوله تيز له کوره ووتلم اوپه منډه مې جومات ته ځان ورساوه، هلته زموږ استاد دطالبانو حلقې ته ناست و او درس يې ورته ويلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هم ورته کېنستلم خوله ډیرې لوړې په دې نه پوهیدلم چې څه وایې، لیږ ځنډ وروسته درس خلاص اوشاګردان رخصت شول،

زه لا ناست وم چې استاد ته یوه ښځه راغله، هغه مکمله په پرده کې وه داستاد خواته کېنستله، څه خبرې یې ورته وکړې خوما وا نه وریدلې، استاد زه ور وغوښتلم او راته ویې ویل: ته واده غواړې؟ ماورته وویل: زه په جېب کې دومره پیسې نلرم چې ځان ته وچه ډوډۍ پرې واخلم واده به په څه شي گوم.استاد وویل: داښځه وایې موږ دلته له بله ځایه راغلې یو اوهیڅوک هم نه پیژنو، څه موده مخکې مې میړه مړشو، دهغه کور او معاش ماته راپاته شوو، زه بل څوک نلرم یوسپین ږیری تره لرم هغه دجومات په کونج کې چې ناست ده هغه هم هیڅ نلرې له ماسره اوسې، داښځه وایې چې زه غواړم په حلاله نکاح میړه وکړم، څو له بدنظره خلکو ځان وساتم، استا دراته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که واده غواړې داښخه درته کوم او مهر یې زه درته پرې کوم، شیخ سلیم وایې ما استاد ته وویل چې داسې وي بیایې غواړم....
استاد سمدستي دهغې تره راوغوښت دوه شاهدان یې هم پیداکړل اوپه جومات کې یې نکاح راوتړله، له نکاح وروسته یې راته وویل اوس خپل کورته ولاړشئ،
ما ښځه له لاسه ونیوله اودهغې کورته ولا ړو. کور ته چې ننوتلو ښځې له مخه پرده لرې کړه،
هغه بیخې ځوانه او خورا زیاته ښایسته وه، چې کورته مې وکتل هغه کور و چې لیږ مخکې زه په غلا ورته راوښتی وم!!. ښځې راته وویل چې ډوډې خورې؟
ماورته وویل هو خورم یې، هغې خواړه راوړل اوزما مخته یې کېښودل، زه دالله قدرت اوعجیب شان ته حیران پاتې وم، ښځې راته وویل: ډیر خواږه توربانجان مې له غوښې سره پاخه کړي دي، خو عجیبه ده نه پوهیږم څوک دلته راغلي دي له یوه نه یې یوه گوله خوړلې ده!
شیخ سلیم وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ما ته ژړا راغله او په ژړا ژړا کې مې ټوله کیسه هغې ته تېره کړه، هغه هم حیرانه شوه، بیا یې وویل:
د الله (ج) عجیب شان ته گوره! تا له یوې گولې بانجانو چې درته حرام ؤ، ډډه وکړه، اوس الله تعالی هغه ټول بانجان، هغه کور او ورسره د هماغو کور ښځه ټول درته حلال وگرځول!

د دغې ښکلې او د پند څخه ډکه کیسه زما گران پلار جان لیکلې وه چې تاسو ته مې په لیکلې بڼه وړاندې کړه

قاری صاحب طالب جان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندوره زده کړه:

لیکونکې روح الله روحانی

یو عالم خپل شاګرد ته وویل :

څو کاله کیږي چې ماسره درس وایې؟

شاګرد ورته وویل؛

درې دېرش 33 کاله کیږي چې تا سره یم،

استاد:

څه شی دې زده کړل؟

شاګرد وویل اته 8 مسئلې مې زده کړي.

نو استاد حیران شو،

له ډېر خندا وروسته یې وویل هغه اته مسئلې کومې دي؟

شاګرد:

لومړۍ مسئله:- خلکو ته متوجه شو م چې هر یو شخص یودوست لري خو کله چې قبر ته داخلیږي هغه دوست ورڅخه لاس په سر شي نو ما کوشش وکړ چې د حسناتو او نېکیو ملګری شم چې قبر ته راسره ننوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمه مسئـــــله:- په دغه آیت ( واما من خاف مقام ربه ونهی
النفس عن الهوی فان الجنة هي الماوی)، ما هم د الله مقام عالي وګڼه او د نفس هوا او هوس مې پرېښوده او د جنت له پاره مې تیاری وکړ.

درېیمه مســـــــــله:- خلکو ته متوجه شوم، هرهغه شی چې ورته ارزښت لري هغه ساتي او حفاظت یې کوي، نو د الله جل جلاله دا وینا (ما عندکم ینفد وما عند الله باق/ کوم شیان چې له تاسو سره دي هغه خلاصیږي اما د الله پاک سره هرڅه پاتې او باقي وي) نو هرقیمتي شی چې مې تر لاسه کول الله پاک ته مې ورسپارل چې راته یې وساتي.

څلورمه مســـــــــله:- خلکوته مې فکر شو چې پر مال، نسب، منصب او ... فخر او غرور کوي، نو ما د الله جل جلاله دا وینا( ان اکرمکم عند الله اتقاکم/ تاسو کې الله ته هغه شخص معزز دی چې پرهېزګار وي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما هم زور او توان په تقوا کې مصرف کړ چې الله پاک ته ښاغلی شم.

پنځمه مسئله:- خلکوته مې وکتل چې یو له بل سره د الله پر نعمتونو حسد او کینه کوي، نو دا الهي وینا(نحن قسمنابینهم معیشتهم في الحیاةالدنیا / موږ د انسانانومنځ کې د ژوند برخې تقسیم کړي) ته متوجه شوم نوحسدمې پرېښود.

شپږمه مسئله:- خلکو یو بل وژل راوژل، یوپر بل یې تجاوز اوظلم دشمنیانې کولی ، نو دالله پاک دا ایت چې (ان الشیطان لکم عدو فاتخذوه عدوا / شیطان ستاسو دښمن دی , د دښمنی لاره ورسره غوره کړئ) نو د خلکو سره دښمني مې پرېښوده او شیطان مې خپل اساسي دښمن وباله.

اوومه مسئله:- خلک مې ولیدل چې د رزق په حاصلولو کې دومره خپل نفس ذلیل کړي , ان تر دې چې حرام او حلال باک هم نه ګڼي ,

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما ته دالله پاک دا وینا(وما من دآبة في الارض الا علی الله رزقها / د ځمکې پرمخ د هر ساکښ او ذي روح د رزق ذمه او ضمانت الله کړی دی) راپه یاد شوه نو پوه شوم چې زه هم یو له دې ساکښنو څخه یم .نو دالله پاک حق چې پرما دی هغه مې قبول کړ او زما چې کوم حق پر الله دی هغه (جل جلاله) ته مې وسپاره.

اتمه مســـــــئله:- خلک مې ولیدل چې د ځان په شان مخلوق باندې تکیه او اعتماد کوي. څوک پر خپل مال، څوک پر خپل اولاد,څوک پر خپل قدرت . نو ماته دا ایت ( و من یتوکل علی الله فهو حسبه / څوک چې پر الله توکل او تکیه وکړي هماغه ذات یې کافي دی) راپه یاد شو , نو پر مخلوق مې توکل پرېښوده او پرخالق جل جلاله مې توکل وکړ.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوډیره عجیبه اودپنده ډکه کیسه

میږی ته ( میږتانه) هم باربار درواغ نه شی زغملی او درواغ ویونکی میږتون ته د مرگ سزا ورکوی

ابن قیم رحمه الله وایي د یوې ونې سیوري ته ناست وم ، یو میږی مي ولید چي دلته نژدې روان و او غوښتل یي چي پروت د مُلخ وزر له خان سره یوسي.
کله چي د وزر په وړلو ونه توانیدی نو تېز لاړی غار ته ننوت له هغي خوا یي د مېږیانو لښکررا وایستی ، کله چي دوی وزر ته نژدې شول ما وزر ترې را پورته کړ

دوی ډېر وگرځیدل خو شی یي ونه موندی ، له ستړیا وروسته غار ته ننوتل خو یو میږی لاگرځیدی ,
فکر کوم هماغه لومړی میږی وه
ما هم وزر ورته کیښود
ده چي وزر ولید بیا تېز لاړ خو دا خل یي هلته خند وکړو
فکر کوم هغوی ته یيقناعت ور کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه اول ځل یې خبره رشتیا نه شوه خو دا وار د اول په ځیرمیږیان نه وه
بلکې لږ راووتل
ما هم د ملخ وزر ببیا پورته کړ
دوی ډېر وګرځیدل ستړي شول او ولاړل خو یو مېږی بیا هم ګرځیدي فکر کوم هماغه میږی و چې دوی یې دوه ځله راوغوښتل
ما بیا وزر مخې ته ورته کیښود
کله چې یې وزر وموندی بیا په بیړه لاړی خو داخل یی ببیخي ډېر وخندېدی فکر کوم هغوی بیخي قناعت نه ورسره کاوه ځکه‌دا دوهم ځل و چې خبره یې دروغ شوه
دا وار اوه مېږیان ورسره راووتل
ما هم د تېر په ځیر وزر ترې را واخیست
هغوی ډېر وګرځیدل
پوه شوم چې دوی هماغه مېږی ته ډېر په قهر شول ،پر راټول شول
او میږی یی توټه توټه کړ، سر اوپښی یې ترې بېل کړې ( ولا حول ولا قوة إلا بالله )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د دوی مخته وزر کیښود دوی چې وزر وموندی بیرته
پر خپل‌ملګري را غونډ شول معلومېدل چې ډېر غمجن
ول او پر خپله کړنه سخت خواشیني وو خو وخت یې
له لاسه ووت
ابن قیم وایي سخت خفه شوم چې دا مي څه وکړل ! ؟
له پرېشانی څخه تنګ شوم او له خپل استاد ابن
تیمیه څخه مي وپوښتل چې ما خو داسي وکړل
هغه راته وویل تاته به الله تعالی ښښنه وکړي خو ګوره
چې بل وخت داسي ونه کړې
، او کومه کیسه چې دي وکړل نو سبحان الله
پاکي ده هغه ذات لره چې مېږیانو ته یې هم د دروغو
قباحت ښودلی
اسلام هم دروغ نه شی زغملی او وویونکی ته یی منافق
وایی او دروغ کبیره ګناه ده.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه څنګه مسلمان شوم؟

غلام عمر عبدالله

یوې ویب پاڼې د یوه رومانیایي کس، د اسلام راو ړلو عجیبه کېسه لیکلې ده:

نوموړی وایي:
زه په ۱۹۹۳ کال کې له رومانیا څخه ترکیې ته په سیلاني سفر ولاړم.

زموږ سیاحت یو داسې کلي ته ورسېدی چې هلته کوم هوټلونه او د شپې تېر لپاره ځانګړې ځایونه نه وه.
موږ له یوه کلیوال څخه پوښتنه وکړل، ایا دلته کوم هوټل او د شپې تېر ځای شته؟

کلیوال راته وویل: دلته هوټل نه شته، مهربانه وکړئ زما سره کورته ولاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او مېرمن مې له کلیوال سره روان او کورته ورسېدلو، په کور کې زموږ په نظر د اوسېدلو یوه خونه او وړوکی پخلنځی راغی.

پنځه ماشومان او دوه بوډاګان په کور کې ناست وه. کوربه په ډېره تواضع او مینې سره زموږ خدمت کاوه او د ماخستن ډوډی یې راته تیاره کړل.

له ډوډی خوړلو وروسته کوربه راته وویل: ته او مېرمن به دې په همدې اطاق کې ویده شئ موږ به په بلې خونې کې ویده شو.

کله چې سهار شو ما غوښتل له خونې ځخه ووځم او د کوربه له خدمت او مېلمه پالنې ځخه مننه وکړم.

کله چې د کور انګړ ته را ووتلم ګورم چې کوربه له خپلې ټولې کورنۍ سره په داسې حالت کې تر ونې لاندې شپه تېره کړې وه او د اوسېدلو خونه یې موږ ته راخالې کړې وه چې هوا هم ډېره سړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما کوربه ته وویل: ته لېونی یې؟، تا ولې داسې وکړل چې له ماشومانو سره دې شپه تر وني لاندې تېره کړل؟
کوربه راته وویل: نه! زه لیونی نه بلکه مسلمان یم!

او په اسلام کې د مېلمه ډېر ستر حقوق دي او زه یې په همدې امر کړی وم کوم چې مې ستا په مقابل کې ترسره کړل.

مېرمنې مې وژړل، او ویې ویل: دا څه ډول دریغ او مېلمه پالنه ده!

په غربي ټولنه کې خو څوک د خپل اولاد او نږدې خپلوانو لپاره هم دومره سختې او تکلیف نه تېروي.

په رښتیا چې همدا هغه واقعي اسلام دی، نه هغه اسلام کوم چې موږ یې په اړه له غربي رسنیو څخه اورېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور له ښځې سره مې ښځه مي غوښتنه وکړل، څنګه کولای شم چې اسلام وپېژنم؟!

د کور ښځې راته وویل: که غواړې چې اسلام وپېژنې اسلام په قران او نبوي سنت کې مطالعه کړه.

د اوسنی مانې په مسلمان کې اسلام نه شې پېژندلای.

د کور ښځې یو ژباړل شوی قران او د رسول الله صلی الله د احادیثو یو ژباړل شوی کتاب راکړ.

د کور له ښځې مو مخه ښه وکړل او د اسلام د مطالعه کولو لپاره مو هغه څه رانیول کوم چې د کور ښځې یې سپارښتنه راته کړې وه.

دوې میاشتې مې نوري هم په ترکیه کې تېرې کړلې او کله نا کله به د هم هغه کور ښځې ته ورتلم او د ځینو مسائلو او اسلامي موضوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه به مې پوښتني ځيني کولې او هغه به هم په ډېره مينه مرسته راسره کول.
الحمدلله!

له دوې مياشتنی مطالعې وروسته الله تعالی زه او زما مېرمن د اسلام په سپېڅلي دين مشرفه کړلو او د کفر له تاريکی څخه يې د اسلام او ايمان رڼا ته راوايستلو.
کله چي د ترکيې له سفر خپل هيواد رومانيا ته راستون شوی يم، له هغه وخت تر اوسه د اسلام په دعوت او خدمت مصروف يم.

الحمدلله!
د اسلامي مرکز، دعوت او نشراتو په وسيله زما په لاس زرگونه انسانان د اسلام په دين مشرفه شوي دي.

نو ما هم څکه د خپل اسلام راوړولو عنوان داسي ټاکلی دی: کوربه چي کله تر اوني لاندي ويده شو، نو له امله يې زرگونه انسانان په اسلام مشرفه شول.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**